پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۲۲

# تعلیم، کتاب ویشنه، مطالعه

## او قلملار ټولنه

## ۳

## (د ویسا ورونو نویو هڅو ته یو ځغلند نظر)

په افغانستان کې د تعلیم د نهضت د عملي او نظري برخو په سر لارو کې، ویسا ورونه او د هغوی «قلملار » ټولنه ټاکلی ځای لري. ویسا ورونو زموږ په ټولنه کې د مطالعې، تعلیم، ښوونځي ته تګ د عامیدو په خاطر خپلې انساني او وطني هلې ځلې د «قلملار» ټولني په چوکاټ کې له ډیرې مودې را په دې خوا تنظیم کړې دي، د علم او کتاب د ګدایي کچکول په غاړه، کلي په کلي، ښار په ښار ګرځي د پوهې او کتاب درویزه کوي او بیا یې لرو پرتو هغو سیمو ته رسوي چې جنګځپلي وي، داسې چې خلک، په تیره نوی نسل د زدکړې او مطالعې شوق او هیله لري، خو نه ښوونځی شته او نه هم د سواد د زدکړې کومه پته او نه هم د مطالعې له پاره کوم کتاب.

د ویسا ورونو او «قلملار» ټولنې د فعالیتونو د پیژندنې او د دوی د فعالیتونو د موخو په برخه کې ما لا پخوا لیکلي وو:

«د اوسني بحث اصلي موضوع د قلم لار ټولنې د پروګرامونو او د دې ټولنې د فعالینو پر هلو ځلو باندې را څرخي.

د قلم لار ټولنې او د هغې د مسؤلینو هلې ځلې د تعلیم، د ټرلو ښوونځیو بیرته پرانستنه، د کوچنیانو او ځوانانو د زدکړو، کتاب سره مینه او د مطالعې کلتور د عاملو په دایره کې تر سره کیږي. د سواد زدکړې، د پوهې تر لاسه کولو اصلي منبع کتاب دی، له کتاب سره مطالعه تړلې ده، نو ځکه دا موضوعات ژوندي دي او هیڅکله نه زړیږي.

په هیڅ ځای کې او په هیڅ ټولنه کې د مطالعې دود، نه زړیږي او نه هم خلک ور نه مړیږي، یوازینی شی چې بدلیږي هغه د مطالعې دول او څرنګوالی دی، ځای بدلیږي او له کتاب یا لیکل شوو موادو نه د استفادې دول یا څرنګوال دی چې بدلیږي یا د مطالعې مواد دي چې په زړیدو سره بدلیږي.

ما د دوی د هلو ځلو په باب موده وړاندې د «تعلیم، کتاب ویشنه، مطالعه او قلملار ټولنه» تر سر لیک لاندې په دوو برخو کې یوه مقاله خپره کړه او په هغې کې مې په مستند دول و لیکل چې ویسا ورونه څه ډول او د څه په نیت د «قلملار» ټولنې په چوکاټ کې فعالیت کوي. دوی د کتاب ټولونې او کتاب ویشنې د هلو ځلو د یو ګزارش په لړ کې د هغه وخت مالومات داسې لیکلي وو:

«قلم لار ټولنه یوه مدني ټولنه ده چې مسئولین یې له خلکو کتابونه را ټولوي او بیا همدا کتابونه لیري پرتو سیمو ته د ځوانانو د لوست له پاره رسوي، دا چې لا تر اوسه د لیرو پرتو سیمو ځوانان د ګنو ستونزو سره لاس او ګریوان دي، د یوې خوا غربت او ناچاري او د بلې خوا کتاب، قلم، ښوونځي او د نورو وسایلو نه شتون، هغه ستونزې دي چې زموږ ځوانان یې د زدو کړو او پرمختګ څخه شاته پرې ایښې دي. د قلم لار ټولنې مسئولینو تر اوسه د هیواد په پنځو لیرې پرتو ولسوالیو کې د ځوانانو د لوست له پاره هغوی ته کتابونه رسولي او د هغوی دا ستونزه یې حل کړې ده چې یاد کتابتونونه، دکندهار په سپین بولدک، پنجوائي، د هلمند مارجه، د زابل ښارصفا او پنځم یې هم د خوست په یعقوبیو ولسوالي کې پرانیستلی.»

ما تقریباً لس میاشتې پخوا (۲۰/۰۲/۲۰۱۶) د سواد، مطالعې او د معارف د عامیدو له پاره د ویسا ورونواو د «قلملار» ټولنې په چوکاټ کې د دوی د مدني فعالیتونو په باب د یوې مقالې په چوکاټ کې، د دوی د هڅو یو تصویر وړاندې کړی و. زما د هغو مالوماتو له خپریدو نه وروسته دوی خپل فعالیتونه نه یوازې دا چې په هماغه جدیت سره تعقیب کړي نور یې هم ګړندي کړي دي. په دې مقاله کې به د دوی د لا هڅونې په پار او د سواد، مطالعې د عامیدو او د معارف د لا غوړیدو د لارې د نورو لارویونکو د لا تشویق له پاره د ویسا ورونو هڅو ته یو ځغلند نظر وکړو:

په نظري برخه کې ویسا ورونه د «قلملار» ټولنې د فیسبوک پاڼه کې ډیر فعال رول لوبوي او داسې نظریات وړاندې کوي چې هر لوستونکی یې په لوستولو د معارف د غوړیدو، د ټرلو ښوونځیو خلاصیدو او مطالعې ته هڅیږي.

د نویو مالوماتو له مخې ویسا ورونو تر اوسه په ټول افغانستان کې تقریبا ۵۷ زره ټوکه کتابونه تر لوستونکو پورې رسولي دي. د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې یې هیواد کې ۶ میلونه ماشومان له زده کړو بې برخي تر ۱۴۰۰ زیات ښوونځي بند دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ویسا ورونو او «قلملار» ټولنې د نویو هڅو په باب مې د یوه امیل له لارې له ښاغلي مطیع الله ویسا نه د مالوماتو غوښتنه وکړه، او خپلې پوښتنې مې داسې ور سره مطرح کړلې:

ښاغلی مطیع الله ویسا ته سلامونه او درناوی!

هیله ده هر څه مخ پر ښه روان وي.

زه غواړم ستاسو د نویو فعالیتونو په باب بله مقاله ولیکم، که مهرباني وکړئ او زما لاندې پوښتنو ته لنډ ځوابونه ولیکئ:

ـ د کتاب ویشنې په ترڅ کې مو څومره کتابونه په څو ولایتونو کې ویشلي دي؟

ـ څومره تړلي ښوونځي مو په نښه کړي دي او د بیرته پرانستلو له پاره یې تاسو څه کړي او څومره موثر وو؟

ـ د «قلملار» د مجلې او پاڼې په باب مفصل مالومات راکړئ.

له مرستې نه مو همدا اوس مننه کوم. تر بیا.

ده بیرته په ځواب کې داسې مالومات را ولیږل:

«تقریبا ۵۷ زره کتابونه مو تر اوسه را ټول کریدی، په ۲۴ ولایتونو کې مو ویشلی، ۷ عامه کتابتونونه مو جوړ کړی دي، ژر به نور هم جوړ سی. د هیواد په ۳۴ ولایتونو کی به د کتاب ویشلو لړی پیل کوو.

زموږ زیات کار جنګی سیمو، خصوصا ۱۳ نا امنو ولایتونو کی د بندو ښوونځیو خلاصون وو. هلته مو علتونه په نښه کول چی ولی ښوونځی بند دي، دوهم مو د خلکو سره خبری مجلسونه کول چی بیرته دو باره بند ښوونځي خلاص کړو، تر دیرشو نه زیات بند ښوونځي دې کلونو کی زموږ او قومي مشرانو په مټ بیرته خلاص سول اوس هم دا پروسه روانه ده.

د قلم لار په نوم فیسبوک پاڼه دریو کلونو نه چلوم چی هدف مو بند مکتبونه بیرته خلاصول، ماشومانو ته مرسته کتاب را ټولول، خلکو ته د برسونو تعلیمی مالومات ورکول دي.»

د افغانستان په دې نا آرامه امنيتي شرایطو کې دوی د سر په بیه نا امنه سیمو ته ځي، تړلي ښوونځي په نښه کوي او د هغو د بیرته پرانیستو له پاره یې د محل له خلکو، سیمه ایزو مشرانو محلي چاروکو نه نیولې، بیا د معارف تر وزارت او له هغو نه هم پاس چاوکو ته عارض شوي، ستونزې یې ور سره شریکې کړې دی او د حل لارې یې ور ته د وړاندیز په ډول مخکې ایښې دي.

د دې عملي فعالیتونو تر څنګه، دوی په ټولنیزو شبکو، په تیره فیسبوک کې د کتاب، مطالعې، ښوونځي او مطالعې د عامیدو و او د نوي نسل د روزنې او پالنې په موخه خورا ګټور مطالب خپاره او څرګندوني یې کړي دي. د دې مطالبو له لوستولو څرګندیږي چې یوازې یوه یا دوې جملې څومره تحرک او خوځون را وستی شي او پر دې به هم فکر وکړو چې د ښاغلي ویسا د ځینو پوښتنو ځواب په څنګه شي او د دې خبرو په اړوند زموږ مسؤلیت څه شی دی؟

---

---

زه به دلته یوازې د ښاغلي مطیع الله ویسا له فیسبوک پاڼې او د «قلکلار» ټولنې له فیسبوک پاڼې (Pen Path) څخه ځینې وروستي پوستونه، جملې او پوښتنې؛ چې د پاسنیو موخو په خاطر لیکل شوي او پوست شوي دي، را نقل کړم او په همدې جملو باندې به دا مقاله پای ته ورسوم:«

ـ هیوادکې دټولو بدبختیو سرچینه بې سوادي ده که بې سوادي ختمه نکړو دبدبختیو خلاصیدل نستهPen Path.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ دومره خو دهرچا مسولیت دی چي خپل کور،کلی کي دخلکو سره تعلیم اړه مجلسونه وکړي ترڅولونو،خویندو ته دتعلیم اجازه ورکړي Pen Path .
ـ تر دغه حالت به نور هم بد حالت راباندي راځي د نوي نسل د تعلیم چاره په کار ده. د بندو ښوونځیو خلاصون او د معارف اصلاح ته لومړیتوب لازمي دیPen Path.
ـ که فرض کړو زموږ ستاسو ماشومانو پرمخ یوه میاشت ښوونځي بند سي څه غبرګون به وښیوو؟خودهاغه ۶ میلونه افغان ماشومان چي ۱۵ کلونه ښوونځي بند دي ترماپوري ولي ټول چپ یو؟؟؟ Pen Path-
ـ که دنړۍ سره سیال ژوند کول غواړو نو لمړی باید دهرافغان بچي دزده کړو غم وکړوPen Path.
ـ تعلیم دهر ماشوم بشري حق دی خو زموږ هیواد کي بیا دلیرو پرتو سیمو ماشومان دا حق نلريPen Path.
ـ دهر بند ښوونځي شاته دسوونو میندواو ماشومانو هیلي نیمخوا سويPen Path.
ـ بند ښوونځي ددوامداري جګړي لامل!
که دبندو ښوونځیو په خلاصون کارونکړو همیشه به دجګړي خلاص نسو.
ـ شپږ میلونه ماشومان دجهالت لمبو وسوځل!
تر ۴۰ زیاتو ولسوالیو کي چي دماشومانو پرمخ یی ۱۵ کلونه ښوونځي بند دي.
دلته زرګونه لیاقتونه ،استعدادونه موجود وو خو هیچا یی غم ونکړ تر نن پوري یی دجهالت اور سوځي....
ـ تر دي لا بل لوی ناورین؟
تقریبا شپږ میلونه افغان ماشومان دزده کړو بي برخي ښوونځي یی پرمخ بند دي.
تر ۴۰ څلویښتو زیاتو ولسوالیو کي ۱۵ کلونه کیږی ددولسم ټولګی فارغ نلرو..
مدنی فعال، دولت ،رسنۍ ،مشر ټول چپ دي.
ایا لس کلونه وروسته چي دا ماشومان ځوانان کیږی بیا به افغان دښمن دهیواد په ضد نه جنګوي ..؟
مسوولیت به بیا پر چا وراچوو؟؟
تاسو یوځل دهاغو ولسوالیو ماشومان وګورئ کوم چي سیمه کي ښوونځي بند دي څومره دتعلیم ارمان لري. Pen Path »
او دي ته ورته نورې ډیرې خبرې او پوښتنې.
هغه ماشوم او کوچنی چې پرته له لاربنوونې، پرته له سواد زدکړې او پرته له ښوونځي غتیږي؛ ټول ژوند به یې جسمي کار، ټول عمر به سټریا او درست عمر به احتیاج وي.



پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ